# د يوې غلطۍ ازاله

ځني خلك چي د قندهار محاوره يې نه وي اروېدلې، حتی ځني محترم ليكونكي او ادباء هم په غلط فهمۍ كښي لوېدلي او وايي، يا ليكي چي په قندهاركښي د (ښ) آواز او تلفظ په (ش) كيږي او د (ږ) آواز په (ژ).

ځكه چي د دې غلطۍ تحقيق په سماع او اروېدلو اړه لري، نو هر څوك چي سماعاً په قندهاركښي د (ښ، ږ) آواز نه وي ور معلوم البته معذور دي.

موږ دلته غواړو، د دغي غلطۍ په ازاله كښي زيار وكاږو ځكه چي د ښاغلو ليكونكو او ادباؤ لپاره بېله تحقيقه دغه حكم نه ښايي.

ښ :

دا حرف په قندهاركښي ماسوا له (ش) څخه ځانله بېل بږغ او مخرج او آواز لري، نه يې مخرج د (ش) سره ګډ دی نه يې آواز، بلكي د (ش) مخرج كښته او د (ښ) دا پورته دی، هغه كلمات او لغات چي په (ښ) ليكل كيږي، يا ويل كيږي، كه يې څوك په (ش) و وايي، نو غلطيږي، او معنا يې اوړي مثلاً :

شنه : مؤنث د شين يعني سبز

ښنه : لنګ، چي په ننګرهاركښي يې خنه بولي.

شی : يعني چيز

ښی : " راست

شندل : يعني پاشيدن

ښندل : " بخشيدن

لوشی : " ګل و لای

لوښی : " ظروف

ويش : " كلمهٔ حسرت

ويښ : " بيدار

خوشي كول : " رها كردن

خوښي كول : " خوشي كردن

شكارل : " ګماشتن حيوان بګزيدن

ښكارل : " وانمودن

له لوړو مثالو څخه ښكاره ده، چي اشكال او تلفظ د كلماتو فرق نلري، امتياز يې فقط د ش او ښ په آواز دی، نوكه د ښ آواز په ش وسي البته د كلماتو معنی اوړي او غلطيږي.

دغسي هم كه ښ او خ بدل سي معنا يې اوړي لكه :

واښ ريسمان = واخ كلمههٔ اظهار الم

ښره شوره = خره انبوه

ښور مجمع = خور خواهر

پرښه سنګ مسطح كلان = پرخه شبنم

اوښ اشتر = اوخ كلمهٔ ترعيب و تخويف

نو په قندهاركښي د (ش) بېل آواز دی د (ښ) بېل آواز دی د (خ) بېل بږغ دی كه سره ګډ سي البته د

کلماتو معنی هم اوړي او په ژبه نه سره پوهيږي، لکه ښ او ش چي په آواز او مخرج او طرز د اداء کښي فرق لري او په قندهارکښي دا دوه حرفونه ځانله مخصوص ږغونه لري که سره ګډ سي يعني هغه کلمه چي په ږ سره ده مثلاً په ژ اداء سي معنا يې اوړي مثلاً :

ږغ صدای مطلق= ژغ اسم صوت مخصوص

يا مثلاً ژور (عميق) که ږور و وايي هيڅ معنا نلري، په دې ډول نه ښايي د ږ او ژ د آوازو خلط وسي.

محترم ليکونکي ښايي له دغي غلطۍ څخه ځان وژغوري چي په قندهارکښي د ږ آواز په ژ سره کيږي، حال دا چي دلته دا دوه حرفونه ډېر سره بېل دي په مخرج، په صوت، په اداء، په معنا او په ټولو خصوصياتو کښي ډېر فرق سره لري، ښايي چي له لوړو مثالونو څخه به د محترمو ليکونکو غلطي او اشتباه رفع سي، په خبروکښي د دې حروفو آوازونو بېلول ضروري دي که نه وي د خبرو معنا اوړي مثلاً :

غنم وښنده =گندم را ببخش

غنم وشنده =گندم را بباش

دغسي هم که موږ د دې پر ځای چي (پر پرښه وښوهېدی) داسي و وايو چي : (پر پرخه وښوهېدی) د جملو معنا څومره تغير خوري، ځکه اکثر محترم ليکونکي په دغه غلطي ګرفتار دي نو موږ ازالتاً للحقا دا څو ليکي وليکلې، ښايي چي له ګټي به تشي نه وي[1].

---

[1] طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمريزکال، ۳۸ مه ګڼه، لومړی مخ.